ایاز نوری
28 جون 2015

د ترکيې سفر او زمونږ د ويارمن تاريخ سره ليدنه او خبرې
(والاحضرت پاچا لور ناجيه جان د افغانستان)



د دوه اړخيزه د زړه د کومې هيله مندۍ، مينې او خلوص د نيټونو پر بنسټ، قسمت داسې وه، چې زه د روان کال د مې د مياشتې د ۲۴ نه تر ۲۸ د مې پورې د ترکيې د طبعيت پر لحاظ ډېر ښکلي هيواد ته د لومړي ځل لپاره په سفر ولاړ شم او زمونږ د تاريخي افغانستان د ملت د اتل او د انګريزي استعمار نه زمونږ د ګران هيواد د آزادي سروال، غازي مرحوم اعليحضرت امان الله خان د وروستۍ نښې يا اولاد، والاحضرت پاچا لوراستاذي ناجيه جاني (د افغانستان) په حضور کې د لومړي ځل لپاره حاضر اووسم. دا ځلور شپې او درې ورځې د درنې پاچا لور او د هغې د اولادونو او نورو د کورو اړونده غړو سره، زما لپاره نه هېرېدوونکي دي. زما سره داسې خلوص، مينه او ساده افغاني، نه ډيپلوماتيک دود، دستور او چلند کېده لکه زه، چې د لوی غازي د کورمخامخ غړی وم. يوه اونۍ زما د تګ نه مخکې، ما خپل د تاريخي انځورونو البوم راخلاص کړ او د لوی غازي يوعکس مې د خانمې زينب نوري په مشوره په کې انتخاب، هغه مې د نيم متر په اوږدوالي د چاپ په هدف يوې چاپ خونې ته ورفرمايش کړ او دا ويارمن، تاريخي او تاثيرناک انځور مې د يوه سوغات په توګه درنې پاچا لور ته تيار کړ. د سفر نه مخکې زما ټيليفوني او د ايمل تماس د لوی غازي د لمسی والاحضرت حميرا جانې سره منظم روان وه.

وروستی تماس مې يوه ورځ مخکې د روانېدو نه وه او حميرا ماته وويل: ؛؛ستا په رارسيدو د استانبول د اتاترک هوايي ډګر ته، مونږ هلته درځو او ته به د چک پوست نه پس ما سره په ذکر شوي نمبر تماس کوې؛؛. ما په جواب کې ورته وليکل:؛؛ مننه کوم، ليکن خواهش کوم، چې خپلې مورجنابې ته به تکليف نه ورکوې او هغه به ميدان ته نه راولي...!!؛؛.کله، چې زه په ټاکلي نېټه د مابنام په ۱۹:۳۰ بجو د استانبول بنار ته ورسېدم، د ژمنې سره سم زما او اغلې حميرا تماس وشو، هغې ماته خپل د انتظار ځای دقيق وښود او زه پس له کنترول نه هلته ورغلم. کله، چې مې وکتل، پخپله ۸۵ کلنه پاچا لور ناجيه جانه، لور او زوم يې، چې په خټه ترک وه د نورو منتظرينو په کتار کې ولاړ ول او زما په ليدو ټول په موسکا شول او ما لومړی د پاچا لور لاسونه ونيول او پس د يو ډېر شکلي روغبړ نه د هغوی د موټر په لور ورو ورو وروان شولو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زما لومړنی عرض په داسی حال کې ما د والاحضرت کین لاس پخپلو دوو لاسونو کې نیولی وه، دا وه، چې، زه نا آرام یم، ما خو د حمیرا نه په تاکید خواهش کړی وه، چې تاسو ته به هوایي ډګر د راتګ تکلیف نه درکوي؟ پاچا لور په داسې حال کې، چې په افغاني مینه او اماني تواضعو یې زه ځیر ځیر کتم، په خپل ځای ودرېده او وې فرمایيل:؛؛**عزیزه نوري جانه! زه پخپله خوښه ځکه دلته راغلم، چې ته د افغانستان خلک یې...؟!.**؛؛. **(نوری جان عزیز، خودم به خاطری اینجا آمدم که تو مردم افغانستان استی...).** ما عرض وکړ، ؛؛مننه کوم، ستاسو فرمایش دقیق دئ، زه د افغانستان خلک یم او د افغان مظلوم او آزادي پال ولس له صف نه ستاسو درانه حضور ته دلته راغلی یم، والاحضرت! زه پر تاسو او ستاسو په دې لوړ ملي احساس او د مشرغازي اعلیحضرت امان الله خان د لور په حیث، ویاړکوم؛؛. بیا موټر ته وختلو، پاچا لور مخکې موقعیت ونیو او حرکت مو وکړ.

د استانبول په شکلي ښار تیاره خوره شوې وه، لیکن ښار پوره د برېښنا په څراغانو رڼا وه. والاحضرت ماته مخ کړ او په مهربانی سره یې د نن ماښام پلان له همدې موقعیت نه ماته ابلاغ کړ. تر نژدې یو ساعت پورې یې زه د استانبول مهمو تاریخي او تفریحي ځایونو ته بوتلم او ما په دغه موده کې لیدل، چې هغې او لور یې په څومره مینه ماته د محلونو د معرفت لپاره معلومات راکول، کله به داسی هم کېدل، چې پاچا لور او لور یې حمیرا یو ځای زه مخاطب کولم او ما به کوښښ کاوه، چې د سترګو د ارتباط په ساتلو د دواړو دغو شرافتمندو او ډېرو مینه ناکو خپلوافغانانو خبرې واورم او دواړو ته په یوه وخت مناسب غبرګون خپل وروړسوم، خو دا ټول د هغوی یو ځانګړی اخلاص او قدر پیرندل وه د خپل یو هیوادوال په مقابل کې... رښتیا، چې د دغو دوو ارجمندانو په بدن کې زمونږ د ملت د اتل او رښتیني خدمتګار مرحوم غازي امان الله وینه چلېدله. پس له دغه ښاري سفر نه، پاچا لور ماته مخ کړ او وې ویل: ؛؛
زمونږ ننی سفر دلته بس ده او تاته نن زما لور او خاوند یې ماشام تیار کړی دئ؛؛. بیا مونږ د اغلې حمیرا کور ته ولاړو او ماشام مو هلته وخوړاو زما په غوښتنه مو څو قطعي عکسونه سره واخیستل. په دوام پاچا لور خپلې لور ته وویل، هغه د افغانستان نه شین چای او ایل ورسره دم کړه او ما نوري جان ته یې راوړه. هغې په ډېره خوښي د خپل وروستي سفر نه و ګران هیواد ته خبرې پیل کړې، ویل یې: د اپریل د ۲۵ نه تر ۵ د می پورې لس ورځې او حمیرا افغانستان ته په سفر ولاړو، زمونږ سفر په خیرت او خوښي سره زما د خور اندیا جاني سره په کابل کې تېر شو. په دې عین کې حمیرا هغه ټول عکسونه، چې د دې سفر نه یې هیواد کې اخستي ول زما د لیدو لپاره د میلمه خونې په لوی تلویزیون کې واچول او هر انځور یې ماته تشریح کاوه.

په پای کې مو پس له هغه درانه مجلس نه د سبا د ورځې پلان سره جوړ کړ او زه بیا خپل خوب ځای ته بدرقه شوم. په سبا ورځ محترمه پاچا لور، حمیرا جان او زه د موټر په واسطه د سهار له خواء د ملي مشهور آزادي پال شخصیت افغان لیکوال او شاعر محمود خان (طرزي) مرحوم زیارت ته د دعا لپاره د ابو ایوب انصاري هدیرې ته، چې د استانبول ښار شمالي خوا کې پاس د غره په لمنه کې واقع وه ولاړو. پاچا لور ماته وویل: ماته د قبرونو منځ کې تګ مشکل تمامېږي، ته او حمیرا زما د نیکه آرام ځای ته ورشی او زه به له دې ځایه ورته دعا وکړم، بیا والاحضرت هلته په یوه ډېره باندې کیناسته او مونږ ورنه ولاړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له دي، چې حضيره کافي لويه وه د وخت د تلفيدو د مخنيوي لپاره حميرا خپل د ماما زوی شاغلي عمر خان طرزي ته فون وکړ او د مرحوم طرزي د قبر د موقعيت دقيقه کروکي يې ورځينې واخيسته او مونږ ژر او په آسانه ځای پيدا او د هغه ملي او د افغانستان د استقلال او افغان ولس د خدمت په لار کې يو قرباني مبارز، روح ته مو د مغفرت او اجر دعا او عکاسي ورنه وکړله. په دوام هغه ورځ والاحضرت پخپلو پياده قدمونو زه د استانبول د اروپايي برخې يوه عمومي واټ ته بوتلم. هلته په يوه اوږده ديوال باندې د ترکيې د ملي دولت او حکومت له خواء د يو شمېر کورنيو او بهرنيو لويو نړيوالو شخصيتونو انځورونه نصب شوي ول. دوه عکسونه هلته زمونږ د ملت د اتل غازي اعليحضرت امان الله خان ول، چې لوی غازي د خپل اروپايی سفر په ترڅ کې د ترک ملي مشر مصطفی کمال اتاترک سره اخستي ول، دا تاريخي انځورونه د عام نندارې لپاره هلته موجود وو. واقعا، چې هر پتمن افغان ته هلته يو ملي غرور او وطن پال احساس پيدا کېده، چې يو وخت مونږ افغانانو په کوم عظمت يو ملي مشر لاره، چې اوس حتی پردي ترکان فخر پرې کوي.
په دوهمه ورځ زما په خواهش مې د درني پاچا لور سره د هغې په استوګنځي کې يوه لنډه مرکه د ويدو فلم په بدرګه تر سره کړله، چې ربښتينو وطن دوستو او آزادي پالو افغانانو ته به خالي له اهميته نه وي.

<u>د مرکې پيل</u>

زه: تاسو که پخپله ژبه خپل ځان درنو افغانانو ته ورمعرفي کړئ!

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پاچا لور: زما نوم ناجيه د افغانستان ده او زه د غازي افغان پخواني پاچا امان الله خان لور يم. د اماني کور ورستنی اولاد يم. د ۱۹۳۰ز کال د جون د مياشتی په ۲۰ نېټه د ايټاليا هيواد مرکز روم کې دې دنيا ته راغلم. لومړنی زده کړې مې د روم شار او بيا د سويس په هيواد کې سر ته ورسولې. بيا د دويم نړيوال جنګ د ختمېدو نه پس بيرته روم ته راغلم او هلته مې په دولتي پوهنتون کې د ادبياتو او بهرنيو ژبو پوهنځی تعقيب اوپه کال ۱۹۵۴ز کې د بری ليک په اخستلو مې دا زده کړه بشپړه کړله. تر ۱۹۵۷ز کال پورې مې د روم په يوه ښوونځي کې د ادب او ژبې د استاذ په توګه دنده تر سره کړله.

زه: ډېر شه، نور هم که مهرباني وکړئ د خپل شخصي ژوند په باب تفصيل ورکړئ!
پاچا لور: پس له يوې لنډې خندا نه...کله،چې ۲۶ کلنه شوم، پلار او مور مې يوې کوټې ته بوتلم او پلار مې راته وويل، لوري، ته پوهېږې، دا د ژوند قانون ده، ته بايد واده وکړې، مور مې هم وويل، هو شايد ته مونږ نه جدا شې، خو دا قانون دئ زما لورکی... هغه وه، چې زما نصيب د يوه ترکي سوداګر، چې ايلټر دوګان نومېده، وه او ما د ۱۹۵۷ز کال د دسمبر د مياشتی په ۱۲ نيټه د هغه سره واده وکړ او د ژوند لپاره د ترکيې هيواد ته ورسره ولاړم. دا فراق د مور او پلار او د کورنی سره ماته آسان نه وه، ما ژړل اما چاره نه وه، مونږ خو مهاجر او جلا وطنه وو او برباد شولو.
زه: آيا امکان نه وه، چې تاسو والاحضرت په دې خدای درکړي حسن او هغه هم د افغانستان د يوه نامي پاچا يوه لور د لوړو زده کړو خاونده، د يوه افغاني پتمن ځوان سره مو وصال شوی وای؟
پاچا لور: نوري جانه، ما وويل، چې مونږ خو يې برباد کړلو. زما په ياد دي، زما د پلار خوښه نه وه، چې زه د ترک سړي سره واده وکړم، اعليحضرت خفه معلومېده، زما مور به تسليت کاوه، چې چاره کومه ده، مونږ بايد دا وصال قبول کړو. له بلې خوا حاکم نادري خاندان افغانستان کې قدرت په لاس کې نيولی وه، هيڅ افغان کس ته يې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اجازه نه ورکوله، چې زمونږ کورايټاليا ته راشي، نو زما پلار او مور بله چاره نه لرله. مونږ پنځه خورانو له سخت مجبوريته د بهرنيانو سره واده وکړ.
زه: جناب والاحضرت، کله، چې دلته ترکيې ته راغلی بيا مو شخصي ژوند څنګه تيرېده؟
پاچا لور: خو د کور نه بيلېدل راته سخت تمام شول، ليکن ما توفيق پيدا کړ، چې د ژوند فلسفه ژر درک کړم او ځان مې د هغه ترک مېړه سره عيار کړ، هغه هم زما درنشت کاوه او زه يې درک کولم، ما هم ځان ورنه لوړ نه بوله او احترام او خدمت ته يې لکه يوه معمولي خانمه رسيدم، نو هغه به بيا خوشحاله وه. زمونږ د دې وصال نه خالق مونږ ته دوه اولادونه راکړل. يو زوی، چې محمد عمر جان يې نوم دئ او يوه لور مې، چې حميرا جانه ده. هغوی زده کړې وکړې، وادونه يې وکړل او اوس دلته ما سره استانبول کې اوسېږي. زما خدمت ته رارسېږي، شه کسان دي او زه ورنه راضي يم.
زه: تاسو پس له واده نه بيا کومه وظيفه هم اجرا کړله؟
پاچا لور: بلی، زه د ۱۹۵۸ز کال نه تر۱۹۷۶ز کال پورې د استانبول په دارالفنون يا پوهنتون کې د ادبياتو او بهرنيو ژبو له هغې جملې د ايټالوي ژبې د تدريس استاذه پاتې شوم، چې د هم هغه کال په پای کې مې تقاعد واخيست او د خاوند سره به مې د سوداګرۍ چارې مخ ته بيولې، خاوند مې دغه درې کاله مخکې د مريضي له کبله د ۸۰ کلنو په عمر وفات شو.
زه: ستاسو لور حميرا جانه، زه وينم، چې په دري ژبه ليک او لوست کولای شي، دا څنګه؟
پاچا لور: هو، دا زما يو نوښت وه. کله، چې هغه اوه کلنه شوله، دلته په استانبول کې د ايران د يو شمېر مقيمو خلکو يو مکتب وه، چې تدريس يې په دري ژبه کاوه، ما دغه مکتب ته ورشامله کړله او دا دري ژبه يې هلته زده کړله. حميرا وايي، چې زه پلارنی ژبه پښتو هم غواړم زده کړم.
زه: اوس که مهرباني وکړئ د خپل پلار اعليحضرت مرحوم غازي امان الله خان په با يو څه مونږ ته ووياست!
پاچا لور: پس له يوې لنډې موسکا او تفکر نه... زما خو پلار وه، نو که زه يې اوس صفت ووايم، داسی نه، چې څوک ووايي، چې دا خو يې لور ده. دلته دوه حالته دي، يو زمونږ کورنی حال او بل د افغان ملت سره زما د پلار چلند. زه ځان ته اجازه ورکوم، چې د کورني حال په باب داسی ووايم، چې زما پلار غازي امان الله خان زما مور ته يو شه مېړه او د اولادو لپاره يو شه پلار وه. زه ورنه ډېره راضي يم. زمونږ په حق کې زړه سوانده او مخلص وه. مونږ ته پوره انساني مينه او اخلاق راکړي ول. د ملت په باب دا د افغانستان د خلکو حق دئ، چې زما پر پلار او د خپل پخواني پاچا په باب کوم قضاوت کوي.يواځی دومره وايم، چې ما پخپل پلار کې لوی د افغان دوستي او افغانستان ته د خدمت يو ژور احساس تل ليده. يو وخت زمونږ يو ماما خيل، چې حسن جان نوميده، دلته زما کورته راغلی وه او داسی نکل يې کاوه:؛ کله، چې زه په کال ۱۹۶۰ز کې د غازي امان الله خان ديدن ته د سويس د زوريخ ښار ته ورغلم، هغه وخت افغان پاچا د ناروغی له کبله په يوه روغتون کې بستري وه او د ژوند وروستي وختونه يې ول. کله، چې زه مربوطه خونې ته ورننوتم، غازي ما سره په مينه سترې مشې وکړله، ليکن زما د شخصي احوال پوښتنه يې ونکړله او مستقيم يې ماته وويل، ته خو افغانستان ته تګ او راتګ کوې، د افغانستان د خلکو څه حال وه؟ د افغانانو ژوند شه تيرېده؟
زه: جناب والاحضرت! ډېر افغانان دا پوښتنه کوي، چې د اعليحضرت د لاس ليکلو خاطرې او يداشتونه شته او کنه، چې هغه مرحوم پخپله دغو سياسي پېښو ته په کوم تحليل او نظر کتل؟ستاسو ځواب به څه وي؟
پاچا لور: کاشکی زما ورور وليعهد رحمت الله جان ژوندی وای او تا دغه پوښتنه د هغه نه کړې وای. زه تر ۲۶ کلنی پورې د خپل پلار سره په روم کې اووسېدم، په دې بهير کې ما ليدل، چې زما پلار به هغه کوچنی خونی ته ورته، چې ميز او چوکی يې په کې اېښی ول. ما به ليده، چې هغه به ليکل کول او زمونږ ورور رحمت الله جان به هم اکثرا هلته ورسره ناست وه او خبرې به يې سره کولې. زما په ياد دي، چې زمونږ يو ماما عبدالوهاب جان طرزي هم هغه کلونه زمونږ کو رته راغی او زما د پلار سره به هم هغې کوټې تلل او خبرې او ليکل به يې سره کول. مونږ خورانو بيا هلته مداخله نه لرله. اوس زه تاته قاطع نشم ويلی، چې دغه ليکنې د اعليحضرت بيا څه شولې او په دې باره کې کومه او څرنګه فيصله شوې ده.
زه: هيله ده، چې يو وخت دا مهمې ليکنې رابنکاره شي.
پاچا لور: زما دا هم په ياد دي، چې د اعليحضرت د د ليکلنو د ميز پر سر د زمري يو هيکل، چې د سپينې ډبرې نه وه، اېښودل شوی وه. د دې زمري په پښو کې د اوسپنې زنځيرونه اچول شوي ول. يوه ورځ ما او نورو د خپل پلار نه پوښتنه وکړه، چې دا زمری او زنځيرونه تاسو د ميز پر سر اېښی دي، دا څه معنی لري؟ پلار وويل:؛ دا زمری

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان او د هندوستان ملت دئ او دا زنځيرونه د انګريز استعمار دئ، چې دا ملتونه يې له آزادي نه محروم کړي دي؛؛.

زه: داسی هم ويل کېږي، که اعليحضرت د خپل اروپايي سفر په بهير کې د انګليس د دولت غوشتنه روسيي ته يې نه تګ د اماني دولت د سقوط سبب شول، ستاسو نظر په دې باب څه دئ؟

پاچا لور: هو، دا مهم سوال ده. دا مسله يو اړخ د موضوع کيدای شي، نه ټول، زما پلار په دې باب ويل، (زما د اروپايي سفر په اصلي مقصد کې فرانسه او جرمني شامل وه، ځکه دا دوه هيوادونه د انګليس مخالف او په اقتصادي لحاظ قوي ول او ما د نوي افغانستان د ترقي لپاره ورنه د مرستې مقصد لاره، په دريم ځای کې ايټاليا ته د هغه دولت د دېر شه نيت په خاطر ورتلم. کله، چې زه جرمني ته ورسيدم د انګليس د ولت له خواء ماته بلنليک راکړل شو، ما د خپل فراخ فکر په اساس دا قبول کړ. په دوام د روسيي شوروي، پولينډ او بلژيک بلنه مې هم تر لاسه کړله. د انګليس د سفر په ترڅ کې هغوی ماته وويل، چې تاسو شوروي روسيي ته سفر رد کړئ او مونږ بيا ستاسو هر اړخيزه مرستې ته چمتو يو.دوی وويل، د انګليس دولت به د افغانستان په جنوب کې يو مصنوعي بغاوت جوړ کړي، مونږ تاسو د افغانستان پاچا ته يو الوتکه تياره کړو، تاسو له همدې لندن نه د خپل اروپايي سفر د قطعي اعلان وکړئ او په ناڅاپه توګه يواځې بيرته افغانستان ته ولاړ شئ او کورنی به مو بيا په ځمکني ترانسپورت تاسو پسې درروان شي. په دې ترتيب تاسو بيا د روسي دولت ته داسی وښاياست، چې زه خو تاسو ته درتلم، ليکن دغه شورش او د هيواد وضعيت زه مجبور کړم، چې زه يو ناڅاپه بيرته خپل هيواد ته ولاړ شم. ما انګيسي مقاماتو ته وويل، په دې وړانديز ستاسو کې، زه قوي منطق نه وينم. زه د يوه مستقل افغانستان يو آزاد پاچا يم، زه د شوروي روسيي سره هم ډيپلوماټيک اړيکي لرم، آيا د شوروي دولتي استخبارات نن يا سبا دا حقيقت نه کشف کوي، چې د افغانستان پاچا په تصنعی انګريزي بهانه زمونږ بلنه رد کړله؟ په دې توګه زه ستاسو دا نظر رد کوم. ما انګيسي دولت ته وويل، زه د مستقل افغانستان يو مشر يم، که روسانو ستاسو پر ضد زما نه څه وغوښتل، زه هغه هم نه قبلوم، مطمين اووسی). بل اړخ د مسلي د برتانيي استعماري ګټې په لوی هندوستان کې ورته مطرح وی، چې د اماني دولت د دوام او استحکام په صورت کې د هند د آزادي خطر نور هم ژر ممکن کېده.

زه: مننه کوم، ستاسو له توضيحاتو نه زه داسی احساس کوم، چې اماني دولت اصلا د وخت زبر ځواک انګريز د سقوط پر او ته رسولای دئ؟

پاچا لور: هو، زما مطلب دلته د يوه ترکيب څخه دئ. دا ترکيب په کورني کچه يو شمېر خود غرضه افراطي ملايان، په اماني حکومت کې د جنرال نادرخان پټ پلويان، چې په ضمن کې يې د انګليس د دولت جاسوسي هم کوله، او په سر کې يې بيا د انګيسي دولت پت او ماهر لاس او د يو شمېر خلکو د اسلامي عقيدې نه خاصه استفاده... البته جنرال نادرخان او ورونو يې لا له پخوا د انګريزي دولت سره خپل پټ پلان او اړيکي جوړ کړي ول. افغانستان د برتانوي استعمار سره ټولي دري جګړې لرلي دي. لومړی او دوهمه جګړه انګرېزانو زمونږ پر ضد پيل کړله، ليکن د دريمې افغان – انګرېز جګړې اعلان د افغانانو له خواء زما د پلار تر مشري لاندې وه، چې دا اقدام بيا خپل ځانګړي تاريخي خطرونه طبعا له ځان سره درلودل.

زه: د نادرشاه او ظاهرشاه د اقتدار پر وخت اعليحضرت داسی هڅه ونکړله، چې د زور له لارې افغانستان ته راشي؟

پاچا لور: نه، دلته مشکل دا وه، چې زما پلاربهرنی مالي اوعسکري کومک اصلا نه قبلوه او دا عمل يې د خپل استقلال اوعزت سره په ټکر کې حساب کاوه. له بلې خوا بيا هم د نادرشاه حکومت زما د پلار نه په ډار کې وه.هغه وخت د ايټاليا او افغانستان اړيکي خصوصا په تجارتي لحاظ زما د پلار د موجوديت له کبله بالکل خرابې وې.افغان دولت ايټاليا حکومت ته ويل، چې ته ولي يو افغان ياغي، چې مونږ ته لا تسليم نه دئ،هلته حمايه کوې او شه يې حمايه کوې.ولی امان الله آزاد دئ؟ د ايټاليا د هغه وخت دولت اعليحضرت ته يو ځانګړی نشان ورکړی وه، چې دغه نشان به د باندې وتلو پر وخت د هغه په غاړه کې پروت وه، چې دوه معناوې يې لرلې، لومړی دا، چې دا کس د بادشاه د کورنی يو غړی دئ او بل دا، چې دا کس مختار دئ هر چېرې تګ او راتګ کولای شي. اعليحضرت به مونږ ته ويل، چې د ايټاليا د پاچا مشوري ماته ډېر اهميت لري او زه به د هغه شي ګڼه هيڅ وخت هېره نکړم.

زه: د افغان دولت له خواء د غازي اعليحضرت د وژلو هڅه هم شوې وه، تاسو دا منی؟

پاچا لور: بلی دا سمه ده. په لومړيو کلنو کې زما پلار او زمونږ کور په روم کې ساتوونکی نه لاره ليکن بيا داسی وخت راغی، چې د ايټاليا د حکومت له خواء زمونږ کور ته دوه محافظ عسکر توظيف ول، حکومت ويل، چې د هغوی استخبارات راپور ورکوي، چې د افغان پخواني پاچا د وژلو پلان شته.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زه: غازي اعليحضرت ته به دا حال دردمند تمامېده؟
پاچا لور: البته، چې دا وضعيت هر انسان ته دردوونکی تمامېږي. زما پلار نه تصادفي بلکي د يوه شريف هدف لپاره د افغانستان پاچا ټاکل شوی وه. هغه يو زيارکښ او فعال کس وه. د بادشاهي پر وخت به يې د سهار له اتو بجو نه تر ماشامونو ناوخته پورې په رسمي خونه کې تيرول. يو ناڅاپه وزګار شو او له وطنه مجبور کړای شو، چې ووځي او هلته ډېر لرې په اروپا کې ميشته شي. خفه وه، ډېر خفه به وه. هغه يو انسان وه. لنډ عمر يې وه او د ځيګر له ناروغی له کبله د ۶۸ کلنی په عمر وفات شو.
زه: آيا تاسو د اعليحضرت د وفات په بهير کوم تفصيل ورکوی؟
پاچا لور: هو، زما پلار د نوموړي ناروغی له کبله د سويس د زوريخ په يوه روغتون کې د ۱۹۶۰ ز کال د اپريل په ۲۵ نېټه وفات شو. بيا مو جسد د ريل په واسطه روم ته راورساوه. د ايټاليا د هغه حکومت مونږ سره پوره غمشريکي وکړله. د غازي جسم يې په يو دولتي مانۍ کې په ګلانو پوښ کېښود او خلک يې د درنښت لپاره دغه مانۍ ته ورته راتلل. زما مور او رحمت الله جان د افغانستان دولت او پاچا ظاهرشاه سره تماس ونيو، ليکن افغان دولت تر دوو ورځو پورې مونږ ته ځواب نه راکاوه. په دريمه ورځ يې يوه افغاني الوتکه راولېږله او غازي پاچا جسد مو په کې ځای پر ځای کړ او زما مور او زما ورور رحمت الله ورسره ولاړل. د پاچا د امر سره سم مړی مستقيم د جلال آباد ښار ته ورسول شو. په هم هغه تاريخ د افغانستان او محکوم پښتونستان ډېر خلک زما د پلار د جنازې د درنښت لپاره د جلال آباد ښار ته رارسېدلي ول. ليکن په هم دغه ورځ موجود افغان حکومت د ډېرو وګړو په ليدو سره په درواغو هلته په جلال آباد کې خلکو ته اعلان کړی وه، چې د امان الله خان د جنازې الوتکه نن ګواکې نه راځي...؟!. ليکن د خلکو ځواب دا وه، چې خير دي وي مونږ همدلته ورته انتظار پاتې کېږو.
زه: دولت ولې دا درواغ خلکو ته ويل؟
پاچا لور: په هر صورت، حاکم خاندان زما د پلار د نوم نه ډارېده، يا هم د خلکو له احساساتو نه د خپل حکومت د پاينښت لپاره وارخطا اوغمجن ول. پاچا او صدراعظم داود خان هم جلال آباد ته رانغلل، پاچا زوی احمد شاه او شاه ولي خان راغلي ول.
اوه کاله پس بيا د ۱۹۶۸ز کال د اپريل په ۲۰ نېټه زما مور ملکه ثريا په روم کې وفات شوله.هغه مو هم هيواد ته ورسوله او په دې سفر کې زه هم ورسره افغانستان ته ولاړم او مور مو د پلار په جلګه کې خاورو ته وسپارله. بيا مونږ خوراني تر يوې مياشتې په کابل کې پاتې شولو. د پاچا له خوا يو وار د بامیانو ولايت ته هم ولاړو او سيل مو وکړ.
يوه ورځ د پاچا د کور په دستور مونږ دري خوراني آمنه، عابده او زه ناجيه د مرنجان تپې يورل شولو او راته يې وويل، چې تاسو به دلته د اعليحضرت غازي شهيد محمد نادرشاه زيارت ته ورځی او دعا به ورته کوی. پس د مراسمو نه کله، چې بيرته شخصي استوګنځی ته راغلو، زمونږ مشري خور آمني مونږ ته مخ کړ او وې پوښتل: عابدي تا، چې لاسونه د نادرخان په قبر پورته ونيول، څه دي وويل؟ هغې ورته وويل، بس يوه دعا مې ورته وکړله. بيا مشري خور ماته وويل، ناجيي تا څه وويل؟ ما ورته وويل، که رښتيا ووايم زه چپ وم او هيڅ مې هم ونه ويل. بيا مونږ آمنه وپوښتله، چې تا څه وويل؟ هغه جدي شوله او وې ويل، ما خدای ته سوال وکړ، چې دا نادرشاه مونږ سره ډېر ظلم کړی، دا کس د دوزخ سقر کې واچاوه....؟!.
زه: جناب والاحضرت دلته غواړم، ستاسو د ورستي سفر په هکله ګران افغانستان ته يو څه ووياست!
پاچا لور: هو، زه سږ کال د خپلې لور حميرا جاني سره د اپريل د ۲۵ نه د مې تر ۵ نيټې پورې افغانستان ته ولاړم. زه دغه لس ورځې د خپلې خور اندیا جان سره په مرکز کابل کې وم. يو ماښام د ولسمشر محمد اشرف غني ميرمن زه او اندیا ميلمانه کړلو او يو مازيګري چای ته خپله ولسمشر زه او خورمي وروبللو او درنښت يې وکړ، کور يې اباد.
يوه ورځ د خور سره د پغمان ښکلي او تاريخي سيمې ته ولاړو. د طاق ظفر محوطې ته چې نژدې شولو، زه له اندیا نه څه فاصله جدا شولم، هلته يو د پوخ عمر يو افغان، چې ولسي جامې يې پر تن وې، ماته ودرېدو پس له سلام نه يې دفعتا زه وپوښتلم: ته د غازي امان الله خان لور نه يې؟ما ټکان وخوړ، ورته مې وويل، ته څوک يې؟ هغه وويل: زه د دې سيمې يو اوسېدوونکی کس يم. ما ورته وويل، هو زه د امان الله خان لور يم. بيا يې ما سره روغبړ وکړ او د يوه عکس د اخستلو غوښتنه يې وکړله. ما د هغه پتمن افغان خواهش ومانه او عکس مو سره واخيست. زما آرزو وه، چې جلال آباد ته د مور او پلار زيارت ته ورشم، ليکن حکومتي مسوولينو وويل، امنيت ډاډ من نه دئ، صرف نظر وکړی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زه: والاحضرت، شايد تاسو هم احساس کړي وي او بالخصوص دغه د ۱۵ کلنو راپدې خواء د غازي مرحوم اعليحضرت امان الله خان نوم په افغاني ټولنه کې شه راوځلېد. په دې ویاړمنه لار کې یو شمېر افغانانو له هغې جملې ګران افغان شخصیتونو لکه: شاغلی محمد اعظم سیستاني، شاغلي حبیب الله رفیع، شاغلي عبدالله کاظم، اغلې ملالی جان موسی نظام، شاغلي محمد طارق بزګر، شاغلي خلیل الله هاشمیان، شاغلي عبدالرحمن زماني، شاغلي مسعود فاراني او نورو وطن پالو افغانانو کافي زیار پرځان قبول کړ، چې دا وضعیت زمونږ د ټولو افغانانو د خوشحالي او رضایت سبب ډئ.
پاچا لور: زه ستا په واسطه دغو عزیزو خپلو وطنوالو ته خپل د زړه له کومې تشکرات رسوم.

.

زه: اغلې والاحضرت! تاسو د افغانستان د یوه قهرمان پاچا لور یاست، تاسو پخپله څرنګه احساس لرئ؟
پاچا لور: بلی، زه یوه افغانه یم او د هغه بل افغان څخه کوم امتیاز باید ونلرم. د افغانستان خلک ماته ډېر ګران دي، شه خلک دي. زما پلار د افغانستان د استقلال محصل وه او افغانستان ته یې عملا کار وکړ، په هغه لسو کلنو کې یې ډېر کار د افغانستان د آبادي لپاره تر سره کړ، خو اعلیحضرت رنګ رنګ دشمنان هم لرل، چې تشخیص او پېژندل یې ورته مشکل هم ول. زما پلار د افغانستان په سیاسي آسمان کې یو وړنګین ستوری وه، چې پس له لسو کلنو شتون له بده قسمته ورک شو او دا پېښه د افغانستان خلکو بد نصیبي وه، کنه اوس به زمونږ افغانستان د اماني دولت د پایښت په صورت کې، اقلا د دغې ترکیې هیواد په کچه یو قوي، شتمن او آرام ملک وای. زما پلار په یوه مقدس ارمان کې قرباني شو. آزادي د یوه ملت بنسټ دئ. زما پلار به ویل،(ما خپل افغانستان ته خیانت نه دئ کړی. زه یو انسان وم، ما کار کاوه اوغلطی رانه شوي دي، چې زما نیت او مرام د افغانستان د شریف ولس په حق کې پاک وه).
زه د هیواد افغانستان اوسنی وضع ډېره خرابه وینم. اوس اړینه ده، چې د افغانستان خلک د خپل ماضی تاریخ نه عبرت او تجربه واخلي. زه دعا کوم، چې خدای مهربان یو فضل وکړي او جنګ جګړه او بی اتفاقي زمونږ له خلکو نه د تل لپاره لرې شي. ستا د دغه شکلي احساس او راتګ نه زما کورته، زه خوشحاله شولم او درنه مننه کوم.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ